# څانګه څانګه ګل غوټۍ





حضرت زبیر زبیر

موسیقۍ (ساز) ته د روح غذا ولې وئیلے شي چې دا د بنیادم مشترکه ژبه ده. دغه شان په دې حواله د پوهانو نورې درنې او خوږې خبرې لکه ,,ذوالنون مصري وائي کۀ څوک سندارا د زړۀ په غوږونو واوري و خدائې ته ئې رسوي،،.

,,مولانا ابوالکلام ازاد په اوولس کلنۍ کښې د استاذ مستیاخان څخه سیتار زده کړے ؤ او د ,,معارف النعمات،، په نوم ئې په دې کتاب هم لیکلے دے. بهتوفن وائي چې سندره له سوچونو څخه راوځي او د زړونو په پردو کښې ځائې نیسي. شکسپیر وائي هغه څوک د مړینې وړ دي چې سندرې سره مینه ونۀ لري. ابو ریحان البیروني په کتاب الهند کښې وائي چې ما خپله یو ښکاري ولیدۀ چې د راګ په وئیلو سره ئې هوسۍ په لاس باندې ونیوله. هجویري په کشف المحجوب کښې لیکلي دي چې ,,سندره د هوسیو نیول اسان کوي او په هندوستان کښې د برمانو او ځنګلي غرڅوو د نیولو لپاره د سازونو څخه کار اخستل کیږي،،.

د ساز اواز چې د ققنس له اوازه د کوم وطن وګړي خپل کړي او نورو کومو موسیقارانو او فنکارانو ته ئې د دې هنر چل ور زده کړے دے کۀ څوک دا د یونانۍ ژبې لفظ ګڼي. د زیږون ځایونه ئې روم فارس یا د هندوانو مندرونه ګڼي. کۀ څوک ئې د مذهب او عقیدو په تله تلي. یا د دې فن په باریکو د دې په سرونو،موسمونو او وختونو سره تړلې سازونو بحث په خپل ځائې د

دې اهمیت هم شته او ضرورت هم او تحقیق ئې پکار دے.

دغسې د پښتنو د سندرو د موسیقۍ په الاتو لکه منګے،رباب،دوګړۍ باجه، شپېلۍ، سرنا،ډول،ډمامې،تمبل،سیتار او تورۍ د ایجاداتو په بابله څه لیکل مناسب نۀ ګڼم دومره قدرې به ووایم چې زمونږ پخوانو موسیقارانو د داسې الاتو نه موسیقي ایستلې ده چې په ظاهري طور سره په دریو قسمونو تقسیم شوې ده. دا الات د تارونو په ذریعه موسیقي پېدا کوي. لکه ستار،سارنګي وغېره. دویم قسم هغه الات دي چې د ساه په پوک وهلو سره موسیقي پېدا کوي لکه شپېلۍ او فلوټ وغېره. دریم قسم هغه الات دي چې په ګوتو غږولے شي لکه تبله،هارمونیم (د ګوتو باجه وغېره) خصوصاً زمونږ په لوک موسیقۍ کښې دغه الات ډېر زیات استعمالېږي. دې الاتو کښې ځینې الات د کلاسیکل موسیقۍ دپاره مختص کړې شوې دي او ځینې د لوک موسیقۍ دپاره ځکه چې د لوک موسیقۍ تعلق د خپلې خاورې او ثقافت سره وي چې ورته قدرتي موسیقي هم وئیلے شي،،.

زۀ دلته دا خبره خوږول غواړم چې زما پښتنه خاوره نغمه ګره ده. د دې خاورې په ذره ذره کښې نغمه پرته ده. د دې وطن د فضا او فطرت خوند او رنګ د اتڼونو او ګډاګانو دے.

دلته چې مونږه خبره د پښتو موسیقۍ کوو نو د اتڼ (نڅا،ګډا) ذکر به ارومرو کېږي. اتڼ یا ګډا د خپل وجود د اندام اندام حرکتونو ته نۀ وائي. دا یو هنر دے هر کله چې پښتانۀ د خوشحالۍ په موقعه په جذباتي جوش و جذبه د خپل وجود اندامونو له د ګډا په انداز کښې حرکت ورکوي کتونکے یا تماشا کونکے ترې خوند اخلي. په دې کښې به هیڅ قسمه د شهواني جذباتو د رالږزېدلو عمل دخل نۀ وي.

د ګډا هنر،فنکاري د سپکاوي عمل نشي ګڼلے کېدے هر کله چې دا فن د خپلې دائرې نه بهر شي نو هغه بیا فن نۀ بې حیائي خورول دي. دا اوس چې د خپل وجود ستر په رنګ رنګ طریقو ماتولے شي او په قسما قسم انداز د نمائش په توګه څرګندولے شي دا فن نۀ بې حیائي ده.

د ګډا یا اتڼ څو قسمونه چې زمونږ په معاشره کښې شهرت لري په هغې کښې د خټکو ګډا،د بنګښو ګډا، د وزیرو محسودو ګډا، شاټوله، د مشرانو ښځو په لستونو ګډېدل،د طالبانو اتڼ چې هغې سره به څه داسې قسمه وینا هم کېدله.

اتڼ د طالبانو دے راغونډ شئ هلکانو
دا دوه دې سرکۍ شونائي مخ دې سپین دے
څه خورې یاره څه خورې
د تور پیکي نه لاندې سپینه خله خورې

د ګډا شورو (اغاز) ته غرۀ او چې کوم ماشوم ګډېږي هغه د لختۍ په نامه یادولے شي.

اتڼ یا ګډا د بې ځایه ټوپونو،چورلکونو،

کچرو،نخرو او د بې حیائۍ اشارتونو ته نۀ وائي. ګډا یو فن دے او هر فن د یو قام د ښکلا،ښائست او ثقافت بنیاد ګڼلے شي.

پښتنو د ګډا ټکے په خپل روزمره ژبه او متل کښې هم ډېر استعمال کړے دے. لکه څه ګډېږې راګډېږې. لکه څنګه چې اتڼ یا ګډا د موسیقۍ برخو کښې راځي او د دې لیک په سر کښې وئیلے شوې دي چې دا خاوره د سندرې او نغمې خاوره ده. دا په دې خاوره د لوئې الله کرم دے چې څنګه ئې فطرت ښکلے دے هم دغه شان ئې ثقافتي قدرونه ښکلې دي.

د دې نغمه ګرې خاورې لوبې،سندرې، بدلې یا د موسیقۍ په ساز تار په تار لړلي شوي شعري اصناف د ژوند په ناویاته خوږو مارۀ او په هر لوري بې بدله او بې مثاله دي. په دې کښې د یو ژوندي قام د ناقلاره او نا ټیکاوه زړۀ درزاګانې ټوپونه وهي. دغه نغمې خوږې پستې،شیرینې نغمې چې په خپل ځان کښې د دې اولس د تخلیقي جذبو کوم توان او طاقت،خوند او رنګ، خوب او خیال،مینه او مستي،ارمان او غوښتنې، حسن او مئینتیا،نزاکت او سادګي لري اورېدونکے بنده ورته حېران شي.

د دې ښائسته ناویاته خاورې کوم تخلیق کار هم کۀ د هر قسمه کیفیت سره مخ شوے دے نو د هغې نه ئې د خپل فن په هنر او په پاکې سپېڅلې فنکارۍ داسې بې رویه بې ریا آئینې تراشلې دي چې:

زۀ د هغې خلقو د فن د نزاکته زار شم
چا چې تراشلې آئینې دي د ګردونو په مخ

اندېښ

بیا د حېرانۍ خبره خو دا هم ده چې دغې بې رویا، بې ریا آئینې خپل اورېدونکي هم له هغې کیفیاتو سره مخ کړې دي د کومو جذباتو، احساساتو او حالاتو نه چې ئې یو تخلیق کار تېر شوے دے. دا هم د دې ژوندي صنف یو ګټور اړخ دے. بیا کۀ د دغې تخلیقي فن پارې (لوبې سندرې) مخه هیڅ یو بند یا بنده نۀ ده وهلې. لوړو غرونو،بورجلونو،لارو، کوڅو،پولو،پټو او اټو کښې سینه په سینه او خله په خله اخستې شوي او خپلې کړے شوې دي. ټول اولس په دې د شریک میراث دعوه ګېر دے. خو د پاملرنې خبره دا ده چې د دې لوبو،سندرو،بدلو هیڅ یو تخلیق کار به د مدرسې مکتب درشله نۀ وي لیدلې. نۀ به ئې چرته د بلې ژبې په ټکي باندې سترګې خوږې شوې وي. مطلب دا شو چې دا سندرې دا پښتنې لوبې لکه د ګل د وږمې په دې خاوره کښې خورې ورې د فطرت په غېږه کښې خوندي دي. او هم د دې خاورې اهنګونو ته پښتنو سازیانو او سندرغاړو غاړې ورکړې دي.

د بهرنو سازونو او اوازونو په سېلاوه کښې اوس دا خطره راپېدا شوې ده چې چرته د دې

پښتـنې خـاورې پـه خاموشۍ کښې دا د رنګونو، ښـائسـتـونـو،خـوبونو او خوندونو فطرتي ژوندي عـکسـونــه خـاورې نهٔ شـي ګڼې تاسو پـه خپلـه وګورئ چې:

ځومره د ښائست د نظر اور دے په دې خاوره کښې
ځومره خاموشي ده ځومره شور دے په دې خاوره کښې

کهٔ دلته نهٔ وې په کنډاو ورپسې واوره
ماله د لونګو بوټي راوړه

راوړه بندۍ چې وپېرونه
جانانه ببرې له راځه چې وځانګونه

ګل دے د ریدې ماله ئې راوړه
او په اوربل کښې به ئې ږدمه

یو مې وهلے په لنډۍ زنه خالونه بل په شړنګ شړنګ
تور وربل زما دے ولونه ولونه

جمادانۍ لمنې غونډه به دې وړمه
را وابه دې ړومه ځار جمادانۍ

مورې د جانان کډې بارېږي
زهٔ ورسره ځمه کله مې مئين زړګے صبرېږي

سورکے پېزوان دے په کنډاؤ ختلے نمر دے
چا وې چې مازيګر دے

تلې راوختلې پېرونه پرېوتلې
چې نارنجان دې شوکول هلکه کېوتلې پېرونه پرېوتلې

دا لورې لارې ډک سيندونه
وربل به راخور نهٔ کړمه ښکلے لالے مې جنګ له ځينه

په کټ کښې غونډه مونډه کېږمه
په مورې ويرېږمه دلته کښې پيريان دي

او زهٔ پناه ولاړه يمه هلکه بلۍ مهٔ نړوه
ليدے مې نهٔ شي

تلې مې سوزي په غرمو ولاړه يمه
زما خدايه ورکه د بل وطن ياري شه

باد ئې وهينه ګل مې د جانان په ټوپۍ
د پېښوره پورې ځينه

ګڼې،ګانې کړه ګوره خرڅه کړه بېګاه له
ماله ,,ماواله،، جوړه واخله

سل روپۍ من شو تماکو اجاره دار شه
کم بخته زميدار شه نور مهٔ کښېنه حجره کښې

شور ئې کولو شاهي نرۍ لخته شنېدله

د غولي مينځ له مې کټکے په ښا ځينه
زلزله ده خوار شې راپاځه غلبله ده

چې په نصيب مې اشنا څه ليکلي دي
راشه پالي لاس مې وګوره

پښې مې تڼاکې شوې منګلې لګومه
جلسۍ جلبۍ ته ځمه

زما لالي ډېر په خوارۍ سره ګټلي دي
څه ملنګه بيا به راشې بوجۍ ګنډلي دي

نرے باران دے پاس په لوړ ئې ورروينه
ژورې کرمي ته نصيب راوړې يمه
جانانه لاس راکه چې دواړه سره ځونه

لونګ کرمه کهٔ لو مې ګډ که ياره تابه رابلمه

ولاړه يمه راوړه وړوکے ګل د ګنډيري

پانه د ګور ګورې نرے قميص ئې د پانوس رڼا کوينه

په ځان د نورو خلقو لاس کله پرېږدمه
مابه ماما اچوي په سره ډولۍ کښې

کډې به چرته ګرځوينه د باران شپه ده
په بيابان شپه ده د مسافرو

د منګي غاړه مې شنه لمن مې سپينه کنه
بل په غاړه مې ځنګېږي تعويذونه کنه

زما صنم د ښاپېرو کرې سينګار دے
زړګے مې بې قرار دے اوس غوارې ديدنونه

ډکه ټوپۍ ملالې سترګې
په ورې مور دې کرکڼې په بازار کښې خرڅوينه

دا ګېر چاپېر په غرونو راغلۀ بارانونه یاره
ګلۍ وربړي نا مۀ ځه دلته شپه وکړه پاتې شه باران دے

نرۍ ئې پانړه شه لیلی ونه د بادام

پړي ئې واچول اوښانو کښې
څه وکړمه خدایه زړۀ مې بند دے په کوچیانو کښې بیا کډې باربړي

وورېژېدنه دا شین وړوکے ګل ګل په ناوګۍ

په ټکر جنګ دے ګولۍ وربړي ونې پاڼې رېژوینه

ارماني لارې د نیلۍ خانه
مازیګر جنګ دې په کړپه ولګونه

بیا هغه ماښام دے د بخت منیر د جرمنۍ ټقا راځینه

چنارونو له دې وړینه سبا سبل په دامان دے

وبه دې وړینه پاڅه لالیه مازیګر دے وبه دې وړینه

زۀ به ئې څنګه ټولومه جمامې
تا ولې دانې کړې دي وړې وړې

پاس په ګودر ولاړې جونې
یا به ګل راوړې یا به وړې ماتې څنګلې زما شیرینه

سپینې سپوږمۍ وایه اشنا به چرته وینه
ګونګۍ شوې ولې نۀ وائې حالونه

زمونږ د کلي نه واړۀ واړۀ خانان تلي دي
جنګ له د جاپان تلي دي جوړه شوه برتي

خېژي سبا چرګان وهي بانګونه
اشنا زما د غېږې ځي مړاوي څانګونه

ټوپک په غاړه ګردنۍ ورله په شړنګ راځي
شمعې له پتنګ راځي

زما اشنا به پکښې ځینه ګاډي د اور
ټکټ ئې کړے د لاهور

د جلاله وبه خوږې دي د کلي پېغلې ترې منګې راډکوینه
د سرو ټیکه دې د وربل د پاسه ځانګې
څنګه په پړق لاړه شي خاندي

د لونګو ونې څانګې دې ګل شه
او زۀ به سیورې له درځمه

پېزوانه تۀ چې په سرو شونډو ځانګېدې
د خوبه وومه

لیلی چې غلې غلې ځي شړنګا ئې د ګونګرو ځي
نیمه شپه قلاره ده

لاړ شه پېښور ته قمیص تور ماله راوړه
تازه تازه ګلونه درې څلور ماله راوړه

مانه د سلو روپو تلے سور پېزوان دے
په نیمه شپه کښې مې په تا شوے ګمان دے

دواړه به ځو د کابل یخې دي مانۍ

دا جینکۍ وبو له ځینه
د بنګلې د سر هلکه ګولۍ په وار کړه

په سپینه پوزه دې نتکۍ پرته د سرو ده جینۍ ټوله د نخرو ده
بند کړه تعویذونه لیلی
سپینه روپۍ دې په اوربل وهي ټالونه

تۀ چې کوځه په کوځه ګرځې اکۍ والا
اکۍ څنګه اخلې په دوه پېسې
ودرېږم کۀ ځمه
په دیدن موړ شوې کۀ مخ بیا در واړومه

بي بي شرینې زیړې ګلې
راباندې واچوه سور شال جوړه لاسونه

د غرۀ لمنه کښې شپونکیه شپېلۍ غږوه
زما ساده ساده لالیه شپېلۍ غږوه

زما باجې له د تیلې وکړه زونډې
باجه زما غواړي زونډي

زما زړګے چې پرې ډاډه دے ښومره ښکلے دے
دغه زما د اشنا کلے دے (سیال)
د ژوند په دشت کښې په سندرو پسې مرمه
یه فنکاره
خدائې دپاره ماته د وطن سازونه
غمژن غمژن سازونه وغږوه (سایل)

کشمالي ګله باران وربږي ګله
زما لوندېږي ده لنډۍ زنې خالونه
منګے مې مات شو کور ته تشه غړۍ وړمه

## میراته پاتې شې ګودره

نن مې اشنا راځي    د ښاپیرو د باغ مالیاره
سبا به بیا راځي ،   جارو کومه ورته لاره

د ملنګي کچکول په غاړه ګرځومه یاره
وخت د مازیګر دے دیدنونه ټولومه

په کټورو به ئې ډکوینه په لالي مئینې
منګے به کوم ګودر له وړې

څو پورې چې ستا د ښکلي مخ دیدن ونۀ کړمه
کاڼي به وړۀ کړمه رانجۀ به پورې نۀ کړمه

د تیلي ګل ئې د وربل د پاسه سور ایښے دے
دا ورله مور ایښے دے دیار دپاره

ګنډیري ګله تاله د چم جینکۍ لوبو له راځینه

د تورو سترګو نه دې لر کړه پیچکي
د ګلو نه نازکې رنځور دې کړمه

یو پله مې یار لونګین مې په دابل پله
ما وړوکیه دے پله راواوړه

د اکوړي په مېدانونو شهۍ روانه ده
او یار له غشي لینده وړینه شهۍ روانه ده

د کمرګۍ په سر مې کور دے ګله
زړۀ مې نسکور دے دیدن تۀ راوړه مئینه  د کمرګۍ

او مامونۍ حلالوینه ټکنه غرمه ده مامونۍ

ګل مې په منګل دے جانانه
او ستا دپاره مې راوړې په وربل دے

ګور ګورې ټولومه زۀ ګور ګورې ټولومه
حمزه شینوارے

د اوښکو ډکې سترګې چاته واړومه
غم په زړۀ دننه زۀ تېرومه
فدا مطهر

سپیني باریکې لېچې تشې ګرځومه
بنګړي والې تروري زمونږ کوټې ته راشه
عبدالله استاد

ځي چې جینکو ډوډۍ پټي ته وړو    لالا له ځو

## ساګو له سحراله ځو

فضل حق شیدا

ګل دې د ریدي ماله ئې راوړه او په وربل کښې به ئې یږدمه

زۀ په خندا ځمه    په ژړا بیا کورته راځمه
نن لو کوټې کم شه   زما د ښکلي جانان غمه

په دې باړه کښې اوبه ګډې وډې ځینه شړ وائي لونګینه

دلتــه د دې فــن پارو د شمېر اندازه لګول ګران کار دے چې دا بــه خـدائې خبر د څومره زمانې نه د دې خاورې په وړمو کښې خورې ورې پرتې وي. او دا هــم ډېره ګرانه ده چې د دې سندرو د ګڼو اړخونو نه پــلــو پــورته شي دې کښې د پښـتـون اولس د ژوند، ژواک،پېغاماتو او جذباتو څرګندونه شوې ده.

لــکـــه چې دالــوبي او سندرې د جنګ پــه مېـدان کښې د یــو جــنګیــالي مړانــه تورزني او د حوصلې د زیاتولو دپاره په ځان کښې څومره توان او طاقت لري. او نورو عامو وګړو کښې د پت،وفا، میــنې،خـلـوص او غېــرت جذبـات راالړزوي. دې ســنــدرو کښې د وګړو د جـدائۍ انتــظــار،شوګیر، وصـــال، د پــت او غېــرت درد هــم او د خوشحــالۍ زیري هم لکه د روڼ عکس پراتۀ دي

بشنو ازنے چون حکایت می کند
وز جدائی یا شکایت می کند
رومي

دا سپــنــاوے کــول ضروري دي چې دلتــه د اولسي ادب د ســمــنــدر نه یوه لپه وړاندې کړے شوه. او د دې ســنــدرو د ســر کړۍ هــم د نــمونې په توګه بره

ليک شوي. کۀ نور وګړي د نورو لوبو او سندرو په لټون کښې دا خاوره چاڼ کړي او د دې شريکې سرمائې د راژوندي کولو هڅې وکړي نو دا ادبي او تاريخي پنګه به د راتلونکي نسل دپاره خوندي پاتې شي.

هسې خو په دې وطن کښې د دې د محفوظ ساتلو دپاره څه داسې خاص انتظام نشته او نۀ بل څوک دې کار ته د کار په نظر ګوري بله يوه لويه د خفګان خبره خو دا ده چې هر سړي ځان سره د بل پنګه راخستې ده. خصوصاً زلمي او پېغلې خو د پردو سازونو،اوازونو ورک ليوني دي او د خپلې پښتنې سيمې او ژبې د دې خوږو تاريخي او د دې د حقيقت او اهميت نه سترګې پټوي ګنې نو دې لوبو،سندرو او سازونو کښې د کومو خوږو رنګونو کمے دے.

کۀ چرې چاته په دې کښې څه کمے ښکاري نو هغې له خو به د بهر هېوادونو څخه څوک سازيان او فنکاران نۀ راځي. خو هم زمونږ اولسي سرمايه ده او هم د دغې کمي لرې کولو ذمه واري ئې زمونږ په سر ده. حالانکې هندوانو هم دا منلې ده چې سندارا د پښتنو د خاورې څخه هندوستان ته راغلې ده مګر هنديانو ديني بڼه ورکړله. پښتانۀ خپله ارا او سوچه سندارا او سندرې لري مګر دا چې تراوسه پورې د مکېش، محمد رفيع،کشور کمار،لتا منګېشکر او اشا بوسلې بدلې اوري يا د ګوګوش په نازکو ايرانيو سندرو باندې شخوندونه وهي دا هم زمونږ خپله بې غوري ده چې په خپل هېواد کښې د پرديانو پر هونرونو خوندونه اخلو او په بې خبره توګه بېګانه سازګر او سندرغاړي نازوو. پردې هونروال د ښاغلو او درنو په نومونو ستايو او خپل هونروال د ډم او د لاک په نومونو ياد وو او د ټولنې د ډېرو سپکو او ټيټو خلقو په سترګو ور ته ګورو. (حواله)

خدائې مۀ کړه کۀ راتلونکي څو کلونو کښې چې زمونږ دا اولسي صنف ورک شي او بيا هر پښتون کۀ د لر دے او کۀ د بر په خالي مېدان خالي لاسونه ولاړ وي لاسونه به مروړي چې زمونږه هم د موسيقۍ د سندرې او لوبې په قامي شمېر کښې څه برخه پکار ده.

د هغې نه وړاندې هر پښتون له پکار دي چې دې شيرينو او خوږو لوبو سندرو له په خپله نغمه ګره خاوره کښې رواج ورکړي.

ستا کاڼي اوبو کښې نۀ ورستېږي دا هر څوک مني
بيا ولې پښتو ستا ټول ټبر بې ايمانه شوے دے
اندېش

حوالې: سندارا و سندرې لطيف جان بابي د اندېش شمس القمر ناچاپه کلام او د رحمت شاه سايل د ريډيو پېښور ځانګې سندرې (موسيقي،غازي سيال،تاتره جلد دوم شماره څلورمه)

☆☆☆